مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ٢٠٢٣/٠٩/٢۶

د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
پینځم توک

دوه سوه او پنځه اویایمه پرله پسي برخه

کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

د کندهار حکومت له میر افضل خان سره په حساب کې .... دینار

	په نقدو		په غلاتو		
	تومان	دینار	خروار	موند	سیر
د خان تنخواه	۱۱۵	۰			
۲/۱ ۷ مأدون مشرانو ته	۳۸	۸۱۲۵	۳۳	۷۵	۰
۲/۱ ۱۴ سپرو ته	۴۸۸	۱۷۵۰	۴۲۴	۸۰	۰
په دې حساب کې د قبلي پر سر ۲ خرواره غله تر لاسه کېږي. دا مخکې له هغه دي چې د آس سپرو د بیا لیږلو لپاره فرمان نه وو ورکړ سوی			۵۰	۸۱	۳۰
	۶۷۶	۹۸۷۵	۵۱۸	۶	۳۰

تادیات په نقدو	۲۵	۰			
تادیات په نقدو	۱۸	۰			
تادیات په نقدو	۱۰	۰			
د کد خدا ګانو د حساب تفریق	۱۵	۴۵۰۰			
د میرابي د حساب تفریق	۱	۰			
د نو آباد د مالیې د معافیت تفریق	۱۲	۴۰۰۰			
د انګورې په حساب تفریق	۲	۳۵۰۰			
تفریق – د شاه په استازیتوب د مأمور فیس چې حسابونه وارزوي	۱۲	۰			
تفریق – د املاکو د ثبت د کتابونو د مأمورینو فیس	۱۳	۳۵۰۰			

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تفریق – د غیر اختصاصي قلبو په هکله د کاه بها په حساب				۱۸	۲۶۲۵			
۲/۱ ۱۰ قلبې اختصاصي ځمکه، د هرې قلبې پر سر ۳ خرواره						۳۲۷	۵۰	۰
	خروار	موند	سیر					
په کندهار کې د نا اختصاصي ځمکو تأدیات په غلاتو	۸۸	۰	۰					
هماغه	۸۱	۵۶	۳۰					
هماغه – د حکومتي ځمکو د اختصاص له درکه	۱۲	۰	۰					
تفریق – د فیس د وصول په حساب				۰	۰	۰	۰	۰
د باقیاتو سرجمع- سردار ئې له ولسوالۍ څخه د را ټولولو امر کړی دی				۵۴۹	۱۷۵۰			
				۶۷۶	۹۸۷۵	۵۱۸	۰	۰

۳۶ – اوس اړینه گڼم چې د محلاتو د مالیاتي عوایدو د سیستم په هکله توضیحات ورکړم، دې توضیح کې په هرې ولسوالۍ کې د هر مستحق سپارۀ لپاره د قلبه ځمکو پر ځای پیسې اختصاص سوي دی. په ولسوالیو کې د عایداتي مالیاتو سرچینه کټ مټ هماغه ډول وه لکه چې په ښار پورې د اړوندو ځمکو په هکله وه؛ دغو ځمکو نظر په دې چې څه ډول ځمکې دي ډول ډول مالیات درلودل لکه تیول، رعیتي، خالصه، خشک آبه، نو آباد یا موروثي؛ په باغاتو کې باغي مالیه یا انگوري وه؛ د ژرندو مالیه؛ خانواري یا سرانه مالیه چې له درانیانو او ځو قبیلو په استثناء نور ټول طبقات په کې راتلل؛ د بېلابېلو راکړو ورکړو د تبادلي مالیات؛ د «سر رمه» یا «سرگله» یا د رمو او پادو مالیات؛ بېلابېل نور مالیات لکه امبار داری، څادر او محصولي؛ د دراني ملازمینو مالیات «کدخدا دادي» او ځو نور غیر مهم مالیاتي اقلام. د سردارانو د واکمنی پر مهال تقریباً د مالیاتو د همدغو بېلابېلو اقلامو لپاره د جمع بندي یوه محاسبه په هرې ولسوالۍ باندې وضع سوه او همدا مقدار د اعلیحضرت د حکومت په اعتبار له وکیل سره د قرار داد پر بنسټ له ځو مواردو په استثناء پرته له دې چې کوم بدلون په کې راسي یا معافیت ئې ذکر سي او پرته له دې چې بېلابېلي سرچیني ذکر سي، مالیات ورڅخه راټول سوي دي. ما دلته ددغه صورت حساب مستخرجه چې د اعلیحضرت او د وکیل تر منځ صورت حساب کې ښکاري چې د شخصي اړیکو په نسبت راغلی دلته ستاسو مخ ته ږدم :

د ولسوالی نوم	په پیسو		په غلاتو		کتنه
	تومان	دینار	خروار	موند	
خاکریز	۲۴۹	۸۶۰۳	۱۱۷۳	۲۳	په اصل کې ئې دیرې تیول قلبې درلودلې خو د سردارانو د مالیاتي تساوي د پالیسی تر سیوري لاندې په هرې تیول او رعیت قلبې باندې ۲ خرواره، ۸۶ مونده مالیه راغله چې پر بنسټ ئې دغه جمعبندي راغلی ده
دِهٔ بوچي Deh Buchi	۵۰	۰	۸۲	۵۸	د هزاره له غصب څخه راخلاصه سوې ځمکه؛ دا ځمکه تیول قلبه نه ده؛ ددهٔ بوچي مالیه د محصول یو پر پینځمه او یو پر لسمه ده؛ په دهلې کې یو خرورا د یو خروار تخم پر سر
زمینداور	۳۳۲۸	۶۲۳۸	۷۳۹	۲۳	د علیزیو تیول ۵۰۰ قلبه ځمکه احتوا کوي چې د هرې قلبې پر سر ۳ تومانه مالیه راغلې
گرشک	۵۴۳	۳۳۳	۳۹۴	۲۵	دلته ۶۰۰ تیول قلبه ځمکه مالیه ئې په غلاتو په هرې قلبې ۳ خرواره محاسبه سوې
نوزاد	۲۳۹	۷۲۰۰			تیول او رعیت قلبه په گډه، تیول هره قلبه ۲ خرواره او معادل ئې په نقدو اخیستل سوي دي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فولاد، واشیر، بسختیاري بارنګي، زیرکي او مالکي Faolad, Washir, Baskhtiari Barrangi, Ziraki and Maliki.	۱۲۸	۴۹۰۰			ددي مقدار ډېره کوچنی ځمکنی مالیه، چي له باغاتو او د پسونو سرانه مالیه اخیستل سوی ده
دو سنګ	۱۰۳	۰	۳۲	۰	د تیول له ډېری برخي څخه اخیستل سوی ده؛ دا جمعبندي د قومي مشر په خوښه سوی ده
قلعه ګز	۱۶۳	۷۱۰۰	۱۸۵	۱۷۲/۱	د سردارانو د واکمنی پر مهال د تیول او رعیت قلبي مالیه په یوډول ټاکل سوي وه د هري قلبه ځمکي پر سر ۵ خرواره اوس یو پر دریمه معافیت ورکړل سوی دی
سیروان کلا Serwan Kala	۲۲۵	۰	۸۲	۰	د هرې تیول قلبي مالیه ۳ تومانه ټاکل سوی وه
دیراوت، چارچینه، ګوارګین او کدجیران Derawat, Charchina, Gawargin and Kadjiran.	۶۸۰	۰			تیول قلبه نه لري؛ جمع بندي ئـي د ثابتي مالیـي پر بنسټ چي د ځمکو د مالیي د ټاکلو د بیلابیلو اټکلونو له مخي سوی ده
ګرمسیل	۶۴۲	۸۲۰۰			پر تیول قلبو د ځمکو مالیه چي تقریباً ۱۰۰۰ قلبي کیږي د سردارانو له پلوه فسخ سوي ده او د هر نهر پر سر ئـي یوه ثابته مالیه ټاکلي ده او د مالیـي څلور پر پینځمه معافیت ئـي ورکړی دی
هزاره جات	۷۰۰	۰			د ۱۲۰۰۰ وزو معادل
فوشنج یا پشین Fushunj or Peshin	۹۰۰	۰			د مالیـي د دغـۀ تخفیف ۸۰۰ تومانه د آس سپرو د تجهیز لپاره او ۱۰۰ تومانه د حق العبور دي
ښوراوک	۵۰۰	۰			مالیه په اوبو ورکړل سوي، تیول قلبه نـۀ لري، ثابته جمع بندي ئـي نادر شاه «افشار- ژ» کړي ده
سیوي یا سیبي Sewee or Sibi	۶۰۰	۰			په همدې جمع بندي کي راغلي خو ډېره نامنظمه ده
اڅکزي	۹۰۰	۰			د خدمت لپاره معافیت
نهر نارین Nahr-i-Narain			۲۸	۰	ددي نهر لپاره له خروبي ځمکي څخه د حاصل یو پر پینځمه
سرخُم، حمزه بولاق او کټه خاجیک Sir Khum, Hamza-Bolak and Katta-Khajick.	۳۰۰	۰	۱۰۰	۰	دا تولي ځمکي د نادر شاه «افشار- ژ» د قلبه ځمکو له ویش لږ وروسته د هزاره ګانو له غصب څخه راخلاصي سوي دي.دغو ځمکو د مالیو تعیین ډېر نامنظمه دي چي د حاصل له یو پر دریمي تر یو پر لسمي پوري سوي دي. د مالیاتو د ثبت په کتاب کي مالیه په ثابتو ارقامو لیکل سوي دي چي د ولسوالي د حاصل د اټکل له مخي سوی دی. دوی تیول قلبي نـۀ لري.
تیرین	۳۵۰	۰	۱۲۰۰	۰۰	
نیش	۴۲۲	۰	۱۲۰	۰	
کجر Kujur	۳۰۰	۰	...		
الګای، زورنګي او سرخ بید Ulgai, Zurrangi and Surkhbed	۲۵۰	۰	...		
بختو او چنارتو	۴۰۰	۰	...		
*میرزان Mirzan	۲۵۰	۰	...		دا ولسوالي له جمعبندي څخه ایستل سوی څکه له دي خایه د مالیـي راټولول ګران کار دی
* دغه نوم باید میزان وي چي ښایي ټایپي غلطي ئـي کړي وي - ژ					
معروف او کدني	۴۸۰	۶۴۰۰	۱۰۰	۰	خوش آبه (خشک آبه – ژ) ځمکي، تیول قلبه نـۀ لري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

ارغسان	۶۶۳	۳۵۰۰	۸۲	۰	دا ځمکه، پوپلزي او بارکزي د موروثي تصدی پر بنسټ کري چې ماليه ئي د حاصل يو پر پينځمه او يو پر لسمه ده
تهل او چوټيالي Thal and Chotiali	۷۳۲	۵۰۰۰	...		ماليه ئي له تيرين څخه د سرانه ماليې او سر ګلي او نورو له مخې راغلي ده
ټولټال	۱۳۲۳۲	۷۴۷۴	۵۵۱۳	۴۶۲/۱	
زمونږ د کمپنۍ د روپيو معادل	۱۴۷۰۳۰				

سردارانو په ولسواليو کې ګڼ شمير بدلونونه، چې د پورتني جدول له مخې به روښانه سي، د قلبو د ويش په اصلي سيستم کې رواړي دي او د هماغو بدلونونو اغيزي لا تر اوسه د اعليحضرت په بيا اعاده سوي سلطنت کې تر اجراء لاندي دي چې په اکثريتو مواردو کې د درانيانو له پلوه د سپارۀ ځواک د چمتو کولو لپاره د ځمکي تخصيص د ماليې د اداري له غوښتنو سره سمون نـﮥ لري. په دې توګه د ګرمسيل حاصلخيزې ولسوالۍ چې د هلمند کوزنی کاسه جوړوي په اصل کې د اسحق زيو او نورزيو قبيلو ته چې تولـه ۱۰۰۰ قبلي ځمکه وه په تيول ورکړل سوي وه. دا تخصيصه د ۳ تومانو په نرخ وه چې په محلاتو کې د قلبي ارزښت سپارۀ سرتيري ته ورکړل سوی وو، او په دې توګه موږ ته ۳۰۰۰ تومانه د تنخواه راکوي چې له ولسوالی څخه بايد اخيستل سوې وای؛ خو سردارانو د ګرمسيل جمع بندي په ۶۸۰ تومانو کړې وه او د نورزيو او اسحق زيو د قبيلو سپارۀ که د ځمکو له کروندګرو څخه وای « په ولسواليو کې همدا پلان وو ځکه د ملکيت انتقال په ولسواليو کې په ندرت پيښيږي» نو دا کروندګر بايد خپلي تنخواه ځانګړی ټاکل سوی معادل چې له ۳۰۰۰ تومانو څخه منفي ۶۸۰ تومانه پاتي ۲۳۲۰ تومانه کيږي د نورو ځمکو له مالياتي عوايدو څخه وغواړي. د هلمند ددرې په نورو ځايونو کې چې ځمکي بدائـي او حاصلخيزه ځانګړتيا لري او ورسره د کښت قلبه هماغه يوه قلبه ده، سرداران دي ته اړ کړل چې په تيول قلبو باندي ماليه له ۲ خرواره يا د هغې له فرضي معادل ۳ تومانو څخه تر ۴ تومانو او ان ۵ خرواره ته لوړ کړي او د اعليحضرت شاه په وخت کې هماغه محاسبه کيږي يعنی د ولسوالۍ د مالياتو جمعبندي د همدې ټاکل سوي ماليې پر بنسټ په غلاتو يا پيسو کيږي؛ له دې امله که اجازه ورکړل سوی وای چې داسي ځمکي دې بزګران د غلاتو يا پيسو پر ځای د قلبو لپاره په خپلو غوښتنو کې تصاحب يا اختصاص کړي نو د ۱۰۰ تنو سپرو برابرول چې يوازې ۳۰۰ تومانه مصرف لري حکومت بايد دا لګښت پر غاړه منلای وای چې د حکومت مالياتو ته ئـي لګښت ۵۰۰ خرواره او يا په پيسو د هغو معادل ۷۵۰ تومانه کيدۀ. په ګرشک او همدا شان د ګرشک په شاوخوا سيمو کې د تيول قلبو د ماليې تعيين د مالياتو د ثبت د دفترونو له مخې په غلاتو ثبت سوي دی ، حال دا چې برعکس دا ځمکي سپرو ته د پيسو په اعتبار محاسبه کيدلي؛ له دې چې د غلاتو ټول مالياتي عوايد مخکي له مخکې د اعليحضرت شاه له پلوه يا د سطنتي انعام په توګه د طلبکار په ګټه او يا د خرخلاو تر شرايطو لاندې او د برتانيې حکومت ته د انعام په توګه تنظيم سوي ول نو د مالياتو منتظم ته هيڅ نـﮥ پاتي کيدل چې د خپل قرار داد شرطونه پوره کړي مګر دا چې په غلاتو ماليه له تيول ځمکو څخه راتوله کړي او د همدغو ځمکو په حساب سپارۀ سرتيري ته د هغـﮥ اختصاصي وجهه په نيمايي پيسو ورکړي. کيدای سي زميندار يوازينی ولسوالي وي چې د ماليـې ارزوني يا ټاکلو دراني بزګرو ته اجازه ورکړه چې حکومت ته له تاوان رسيدلو پرته او يا د سپارۀ په حق له بې عدالتی پرته، تيول قلبه ځمکه وکاروي، ځکه د سپارۀ اړتيا ولس ورته پوره کوله، دلته د تيول قلبی پر سر ثابته ماليه د ۳ تومانو وه او ارزښت ئـي سپارۀ ته ټاکل سوی وو مګر ان په دې ولسوالۍ کې هم د ځمکو په ورکولو کې د موجوده ځمکو د نامتناسب پراخوالي په هکله ستونزو شتون درلود. د عليزيو قبيلې د ۳۰۰ سپرو لپاره ۱۲۰۳ تومانه، ۹۷۵۷ ديناره نقد او ۳۱۶۹ خرواره غله وغوښتله. ددغـﮥ مبلغ عادلانه ټاکل دې ته اړتيا درلوده چې ۶۱۱ قلبه ځمکه چې قبيله ئـي اوس مستحقه ده بايد د ولسواليو او متعلقه ځمکو تر منځ په مساوي توګه وويشل سي او دا ويش له سره تر پايه غير عملي وو، ځکه هغه ۶۱۱ قلبه ځمکه چې نادر شاه عليزيو ته اختصاص کړې وه له هغې څخه ۵۰۰ قلبه ځمکه ئـي د زميندار په دښتې کې محصوره ده، له همدې امله ده چې اوس دا قبيله ددغو ځمکو پر تصاحب برسيره په کندهار پوري د متعلقو ځمکو ترمنځ د ارزښت تفاوت غواړي – دا تفاوت ۲۰ خرواره يا ۳۰۰ تومانه کيږي. که د پوپلزيو او الکوزيو تر منځ داسې ډيري بيلګې نـﮥ سته چې په هغو کې دې قريه جات د محلاتو برعکس برتري وموږي او قبيلو ته ئـي ګټه ورسوله او دا ګټه له هغـﮥ تاوان سره ملګرې وه چې علي زيو وزغمله، زه د اعليحيضرت د اوامرو پر بنسټ فکر کوم چې د مالياتو پر منتظمينو باندي د علي زيو ادعاګانې د اعتبار وړ دي. ما دغه ځانګړتياوې ددې لپاره يادې کړې چې د دراني سپرو د خدماتو لپاره د ولسواليو او «په ښار پورې» د اړوند ځمکو تر منځ د مساوي ويش غير عملي توب په ډاګه کړم او هم روښانه کړم چې د ياد سوي مورد لپاره د هغو دلايلو پر بنسټ چې په تفصيل سره په ۳۴ فقره کې راغلي دي بله لاره او چاره نـﮥ وه مګر دا چې د ځمکو په دغسې تخصيص کې د رامنځته سوي کسر د جبران لپاره د حکومتي مأمورينو له پلوه دې غلات وويشل سي؛ له دې کبله موږ په لومړني مورد کې وليدل که پر قلبو باندې د نابرابری او د مالياتو د ټاکلو بې نظمي موجوده وه نو له دې کبله دې ته هم بله لاره نـﮥ وه مګر دا چې قومي مشر ته دې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

پیسې اختصاص سي او دا پیسې دې قسماً او یا ټولې له هغو مالیاتو عوایدو ورکړل سي چې قبیله په خپله ولسوالۍ کې ورکولو ته ئې مسؤولیت لري او یا دې د حکومت له نورو عوایدو څخه ورکړل سي او کیدای سي دا هغۀ افسر ته هوساینه ورکړي چې د مالیاتو د راټولو د نظارت دنده ئې پر غاړه لري.

۳۷ – دلته باید په لنډیز ووایم چې د دراني سپرو په هکله د اعلیحضرت فرمانونه د هغو اصلاحاتو تر روڼا لاندې عملاً اجراء سول چې ما وښودل ؛ دا اصلاحات باید په هیواد کې د راغلو بدلونونو له کبله رامنځته سوي وای، مخکې له دې چې زه ددې سیستم د اغیزو په هکله خبرې وکړم زما لومړنی پاملرنه به ددې سیستم پر ثبات باندې وي. کله چې اعلیحضرت د دراني سپرو په هکله خپل تکل ته اشاره وکړه نو دراني خانان هم ورته متعجب او هم خوشحاله سول خو دوی ډیر ځنډ وکړ او له ځنډ کولو څخه ئې احتراز ونـۀ سو کولای. هغوی په لومړیو کې ډاډه نـۀ ول چې آیا دا موهبت پر دوی باندې یو ناڅاپه وریدلی که څنګه؟ دوی فکر کاوۀ چې ممکن دراني سپارۀ په بیړه راونـۀ غوښتل سي نو له دې کبله دوی د سپرو سرتیرو د لګښت له پیټې څخه ویریدل. کله چې دوی له دې خبرې ډاډه سول ویې لیدل چې دوی په بشپړ ډول کوم پیرو نـۀ لري، دوی له ډیرو خبرو اترو وروسته په دې بریالي سول چې هغه کسان وپیژني چې د سپرو سرتیرو د خدمت مسؤولیت ورته راجع کیدۀ خو ورسره د آس او د وسلو برابرول دغو خواوو ته آسانه نـۀ ول او یا ئې دې ته اړ کړي چې د جګړې دډګر لپاره دې آس او وسلې ورته په خپله چمتو کړي، ددوی د تنخواه اټکل یوازې د موجوده مصرف له مخې سوی وو او ټول ئې له یوې مخې دومره ناکافي ول چې د اصلي تجهیزاتو قیمت وربانديې نـۀ پوره کیدۀ. له څو میاشتنیو هڅو وروسته دوی د خپلو سپرو په راټولولو پیل وکړ او د هغو غلاتو په مرسته چې حکومت مخکې له مخکې راټول کړي ول او هم د ولس د مرستو په ونډو راټول سوي ول، دراني خانانو غوښتل د سپرو لپاره احتمالي مرستې ځانته خوندي وساتي، خانانو وکولای سول د کال له پای ته رسیدلو مخکې ۱۵۰۰ تنه سپارۀ د پوځي معایناتو لپاره چمتو کړي چې له دې شمیر څخه یوازې ۱۰۰۰ تنه ئې ومنل سول. دا هغه سپارۀ ول چې یو ناڅاپه د پټیو له سره راټول سوي او په خوار او مفلوک ډول پر آسونو سپارۀ او مجهز سوي ول ؛ دا سرتیري په همدې اندازې د پوځي نظام له صفوفو او وظایفو بې خبره ول؛ دوی ډیر خوار او سپیره ول او د خانانو د خبرو تر اغیزو لاندې راوستل سوي ول ؛ دوی د سرتیرۍ له خدمت سره علاقه نـۀ درلوده. له لومړي احضار وروسته په دوی باندې د جنورۍ د میاشتې تر پیل پورې نور غږ ونـۀ وسو، خو وروسته له هغې چې سردار عطاء محمد خان زمینداور ته ولیږل سو چې د اختر خان تر مشرۍ لاندې د بلواګرو د شړلو لپاره یو ځل بیا د هندوستاني سرتیرو راوړلو ته اړتیا پیښه نـۀ سي دغو سرتیرو باندې د راټولیدلو غږ وسو. په همدې دلیل ول چې له بیلابیلو قبیلو څخه تقریباً ۱۲۰۰ آس سپارۀ راټول سول، قومي مشرانو ډیره هڅه وکړه چې «دوی ته د آسونو او وسلو له پیرودلو وروسته» ددوی رتبې تر نهایي حده لوړې او متوسطه تنخواه ورته ترلاسه کړي، ځکه دوی د خدمت لپاره پر سر سپرو باندې لګښتونه کړي ول ددغو خدماتو په بدل کې تنخواه له یوۀ خروار غلاتو او شپږو روپیو نقدو نـۀ ډیریدله. په قوم الکوزی «سودال خان» [1] یوازینی قومي مشر وو چې د خپل کنډک بشپړ ابزار ئې درلودل له دې کبله د هغـۀ د مخکینیو خدماتو په پام کې نیولو سره نوموړي دا حق درلود چې له اعلیحضرت څخه دۀ ته د ټولو اختصاص سویو حق الزحمو غوښتنه وسي. له نورو قبیلو څخه راټول سوي ځواکونه په متوسط ډول د هر قومي مشر د مسؤولیت د شمیر نیمايي وو نو له دې کبله ئې د بشپړې حق الزحمې د ترلاسه کولو لپاره خپله ادعا له لاسه ورکړه؛ خو هغه غوښتنه چې دوی د کسر د ټاکلو لپاره درلودله په سختۍ د رد کیدلو وړ وه. د استحقاقانو یوه برخه له ولسوالیو تر لاسه کیدله، دوی په دقت سره لیدل چې ددغو تادیاتو ، که ټوله برخه ئې نـۀ وه، نو د یوې برخې تر لاسه کیدل ئې ضرور وه چې ددوی د تجهیزاتو خرڅ ورباندې وسي، حتی که ورته په نامناسبو او نا اغیزمنو شرایطو کې تنظیم سوې وې چې په ښار پورې د اړوند ځمکو په هکله ترتیب سوې ول، ولس هلته دا چارې تر خپل فوري کنترول لاندې لرلې. سردارانو په زمینداور کې بیلابیلو قومي مشرانو ته براتونه «صورت حساب» ورکړل او د هرې قبیلې د تادیاتو ذمت ئې بشپړ کړ او مجموعاً ۹۲۴۵ تومانه، ۸۵۷۰ دیناره ئې جوړول چې زموږ د کمپنۍ د پیسو ۱۰۴۷۳۰ روپۍ ئې جوړولې؛ او وټاکل سوه چې د سردارانو یا د مالیاتو د افسرانو له پلوه، له ولسوالیو څخه د پورتنیو روپیو د ترلاسه کولو په صورت کې دې د دراني سپرو شمیر فوراً لوړ او د شهزاده والي کتنې ته دې وړاندې سي. په ټولو ولسوالیو کې قبیلې تقریباً له یوې مخې په هماغو قلبو کې پاتې سوې چې په لومړیو کې په دوی باندې ویشل سوې وې. [ددې فقرې ۲۲ کرښې مې چې غیر ضرور وې ونـۀ ژباړلې.]

د ژباړونکي یادونه : ددغه راپور دغه فقرې ټولې ۴۵ دي. لوستونکي به تر دې ځایه پوه سوي وي چې ددې راپور ټوله موخه د درانیانو د سپارۀ ځواک، د دراني قومي مشرانو او د دراني قبیلو د ونډو په هکله ده چې څنګه ځمکې ویشل کیدلې او څنګه قبیلو مسؤولیت درلود چې د سپارۀ ځواک لپاره خپله ونډه برابره کړي چې د تیول او د رعیت ویشل سویو ځمکو او د حاصلاتو او مالیاتو راټولولو ئې په کې مرکزي ونډه درلوده. نورې پاتې برخې ټولې په همدې روحیې دي او کوم

---

[1] - Sudal Khan : ما ژباړونکي دغسې نوم هیڅکله نـۀ دی اوریدلی. زما په ګومان دا نوم له تلفظي اړخه «سیدال خان» ته ډیر ورته والی لري. - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لوړ تأریخي ارزښت نـهٔ لري چي نور ئـي وژباړم چي ښنايي تولټال ۲۰ پاڼي سي چي ما ئـي له ژباړلو نوره ډډه وکړه. بل دا چي دا راپور په داسي ادبياتو ليکل سوی دی چي يوه جمله ئـي يوه پاڼه ده يا ۲۰ يا ۲۵ کرښي ئـي يوه جمله کيږي او ژباړه ئـي ډيره ستومانه کوونکي سوه او هم پيچلي ده. حتی په ځينو ځايونو کي ئـي په دقيقي معنی نه يم پوه سوی. له لوستونکو غواړم چي دې نقيصي ته دې د اغماض په سترگه وگوري.

په کتاب کي د راغلو اصطلاحاتو شرحه

Ab	آب	اوبـهٔ : د سيند او د سيند په معنی هم کارول سوي ده
Abdan	آبدان	د افغانستان په شمال کي د اوبو د زيرمه کولو يا د باران د اوبو د ډنډ په توگه کارول کيږي
Aftab	آفتاب	لمر
Ahingar	آهنگر	پښ، گگر، آهنگر او په افغانستان کي د کلي لپاره هم عام نوم دی
Ahu	آهو	غرڅه، د اکسوس په اوږدو کي غټي او لوئي غرڅي ته گـَـوَز وايي، کـُـرکِ آهو يو "کـُـرک" دی چي د غرڅي له وړيو جوړيږي؛ غزال
Ailak	ایلاق	د دوبي د تيرولو ځای يا کلی دی، برعکس قشلاق د ژمي د تيرولو لپاره دی
Aimak	ایماق	ايماق د کوچي په معنی ده؛ چهار ايماق يعنی څلور کوچي قومونه؛ دوازده ايماق ۱۲ کوچي قومونه، قبچاق
Ak	آق	آق: سپين. آق سقال : سپين ږيری يا د کلي ملک
‘ak	ـ ک	د نوم د تصغيري بڼي د جوړولو لپاره يو وروستاړی دی يعنی کوچنی لکه سرايک، کوچنی سرای
Akor or Aokhor	آخور يا أوخور	د څارويو لپاره د اوبو څښلو ځای، يوه سلينډر ډوله ناوې غوندي ځای يا جوړ سوی ځای دی چي آسونه هلته خپله بهوسه خوري؛ له دې پرته د مدير په معنی ده لکه : مير آخور، د اسونو روزونکی مدير، آس ساتونکی
Alaf	علف	واښـهٔ
Alakadari	علاقه داري	د ولسوالي يو اداري واحد
Alaman	اله مان	ناڅاپي يرغل په ځانگړي توگه د تورکمانو چاپه؛ همدا شان د چاپه اچوونکو يوه ډله، راځ اله مان : هغه لاره چي يرغلگر يا چاپه اچوونکي وربانديې ځي
Alkhani or Ulkhani	الخاني	وگورئ ايلخاني
Alparghan or Altarghan	البرغان	يو کوچنی بوټی دی چي زيړ گلان لري، ايسکيچ ته ډير ورته دی
An	آن	کوتل
Anbar	انبار	زيرمتون يا گودام
Angur	انگور	انگور
Anguri	انگوري	د تاکونو او د ميو د ونو ماليه
Anjir	انجير	اينځر
Aokhor	أو خور	وگورئ : آخور
Aolia	اوليا	زيارت؟
Aoriz	آوريز، آب ريز	د اوبو بهير
Araba	عرابه	کراچي
Aral	ارال	ټاپو؛ د ارال سمندرگی ځکه په دې نامـهٔ ياديږي چي په ټاپوگانو ډک دی
Arbab	ارباب	(د تاجيکانو او فارسي ژبو وگړو په منځ کي) د کلي مشر، د کلي ملک
Archa	ارچه	د نښتر ونه (په پښتو کي «اوبښته»)
Arg or Ark	ارگ	استحکامي کلا، برجوره کلا، قلعه، دفاعي برج
Arik	ارق : اريق	نهر، کانال : ينگ آرق – نوی کانال
Arzan	ارزن	ږدن
Asia	آسياب - ژ / آسيا	ژرنده؛ باد – آسيا يا آسياى بادي : بادي ژرنده
Asp	اسپ	آس : ميدانِ اسپ : يو مبهم واټن دی چي د مايل ربع يا هم د مايل نيمايي واټن کيږي
Azhdaha	اژدها	ښامار : اکثراً د ځايونو له داسي نومونو سره مخامخ سوي يو چي له رواياتو او افسانو سره تړاو لري.
Azwaji	ازواجي	د کښت وړ ځمکي باندې ماليه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

Bad	باد	باد : باد- آسیا : بادي ژرنده، بادگیر : باد پښ، هوا کش، د هوا تهویه، بادِ صدوبیست روز: د ۱۲۰ ورځو باد چې په سیستان او هرات کې نامتو باد دی.
Bagh	باغ	بڼ یا د میوو بڼ؛ چهار باغ یو عام نوم دی
Baghat	باغات	د یوۀ کلي یا ښارګوټي ګردچاپیره سیمې چې بڼونه ولري
Bai (Boi in some dialects)	بای	دا شتمنو او بډایو وزبیکو او تورکمنو ته یو ویاړلی لقب دی. دا لقب د رمو د څښتن لپاره دی
Bairak	بیرق	بیرغ، د خاصه دارانو یوه قطعه
Baital	بیتال	اسپه
Bala	بالا	لوړ، پورته، د ټیټ یا پائین یا کښته برعکس، بالاحصار، لوړه کلا، له اړګ یا استحکامي کلا څخه له توپیر پرته په یوه معنی کارول کیږي
Bam, or, Bum	بام	بام، هره همواره سطحه یا د لوړې سطحې پاسنۍ همواره برخه، ظاهراً ګرنګ یا کنډو لپاره هم کارول کیږي. د بامیانو نوم له (بام – میان) یعنی د ګړنګونو تر منځ څخه راغلی دی
Band	بند	بند د اوبو بند ته ویل کیږي او کله نا کله د غرونو لړۍ ته هم ویل کیږي
Bandar	بندر	سړک؛ تر اوسه هیڅکله د بندر په رښتوني معنی یا د مارکیټ لپاره نـۀ ده کارول سوې
Barak	برک	بـَرَک : نرم ټوکر چې د پسـۀ له وړیو جوړ سوی وي او رنګ نـۀ وي ورکړل سوی، تر هغه لوړ یا اعلی برک د کرک په نامـۀ یادیږي
Barkhan	برخان	شګلنه غونډۍ
Bash	باش	مشر، سر، ملک : باشي، د هر شي مشر لکه صد- باشي د ۱۰۰ خاصه دارانو بولندوی، مینګ باشي، د ۱۰۰۰ تنو مشر، مینګ باشي د افغانستان په شمال کې د مالیاتو د راټولولو مشر وو؛ قراول باشي : د پوځي پوستی بولندوی یا مشر
Bast	بست	تړلی، ګردچاپیره دیوال یا احاطه، دیوال – بست : په دیوالونو کې راتاو
Baz	باز	باز یو ډول ښکاري مارغـۀ دی، بابښه.
Bazgar	بزګر	اجاره وي کروندګر
Bed	بید	وله
Beg	بیګ	دا د ټولو تورکي ژبو خلکو په منځ کې یو عام لقب دی؛ بیګ تر «بای» ډیر مهم سړی دی؛ بیګلر بیګي د «بیګانو» «بیګ» زښت لوړ لقب
Bel	بیل	یوم
Bel	بیل	دا لغت له «کوتل» یا «بڼ» سره هم – معنی دی
Bhosa	بهوسه	ټکول سوي واښـۀ. واښـۀ معوملاً د درمند د ټکولو په لړ کې ماتیږي چې غوایان وربانډې تاووی.
Bini	بیني	پوزه؛ د غرۀ د څوکې لپاره هم کارول کیږي
Birinj	برنج	وریجې
Bolak	بلاق	د اوبو چینه
Bolak or Buluk	بولک ، بولوک	د یوې ولسوالۍ علاقه داري، یو تولک
Borida	بریده	سوری یا سوړه؛ سنګِ بریده : پریک سوې ډبره؛ سورۍ ډبره
Bum	بام	وګورئ : بام
Bunnu	بنو / بونو	یو ډول واښـۀ دي
Buriabaf	بوریاباف	د پوزي یا کجاوې اوبدونکی
Burj	برج	برج
Burna	برنا	لوړ، لکه بالا
Buta	بته	کوچنی بوټی چې د سون توکي لپاره کارول کیږي
Buzghunj	بزغنج	د پستې تریخی، د پستې ونه؛ دا هر یو کال تر منځ شنـۀ کیږي
Chah	چاه	څاه
Chaharbagh	چهار باغ	وګورئ : باغ
Chaharmaghzar	چهارمغزار	چهار مغز
Chakao	چکاو / چک آب	ځړوبی، آبشار
Chaman	چمن	چمن
Chapchal	چپـچل	هغه سړک چې د ډبرو له منځه د ډبرو په پریک کولو سره تیر سوی وي
Chargo	چارګو / چارګاو	د قلبې یا «پاګاو» نیمایي
Chashma	چشمه	د اوبو د چینې لپاره عام نوم خو کوچني سیند ته هم ویل کیږي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

Chehidukhtar	چهل دختر	ځلوېښت نجونې؛ د سیمي لپاره یو عام نوم
Chim	چم	د خاورو یوه کوارې، وښیانه، کبل د چمن توټه
Chinar	چنار	چنار ونه
Chir or Chil	چیر	نښتر
Chob	چوب	لرګی
Chol	چول	چول یو تورکي لغت دښتي لپاره دی، په افغانستان کي عام نوم دی او عمدتاً شګلنو بیدیاګانو ته ویل کیږي
Chopan	چوپان	شپون
Chughur	چقور	غوچ
Dahbashi	ده باشي	د لسو تنو مشر، ډلګی مشر، پرکمشر، خورد ضابط یا حواله دار
Dagh or Tagh	داغ یا تاغ	غرنی لړی یا غر
Dahan	دهان، دهن	خولـهٔ په عام ډول د منځغري، تنګي، درې یا د سیند تیبټ ځای ته وایي
Dahana	دهانه	ددرې، منځغري او یا تنګي یا هم سیند او سیند په خولـهٔ کي ځای
Daima or Daimi	دیمه	هغه کرهنه چي په اوبو لګولو ترلی نـهٔ وي؛ کټ مټ لکه للمه، للمي
Daqq	دق	پلندی، باتلاق
Dara or Darrah	دره	په عام ډول دره ده؛ عموماً تنګ ډېرین منځغري او تنګي ته ویل کیږي؛ په ځانګړې توګه چي له منځه ئي سیند یا خوړ تیر سوی وي
Darakht	درخت	ونه، یکه درخت، یک درخت، یوه ونه، مینګ درخت : ۱۰۰۰ وني
Darband	دربند	تنګی
Daria	دریا	سیند، آمو دریا، د اکسوس سیند
Darwaza	دروازه	دروازه همدا شان د غرونو یا تنګیو تر منځ تشي هم دروازه ویل کیږي
Dasht	دشت	له کانو او جغلو ډک ځای یا مخ خلاصی ځای چي اکثراً هموار ځای ته ویل کیږي، د لوړې سطحي کوچنی په جغلو ډک ځای
Dast	دست	لاس یا موټی
Davan	دوان	کوتل
Deh	ده	کلی؛ دهات : ګڼ استوګني سیمه؛ له ښاره وتلی ځای، ښارګوټی
Dehkan	دهقان، دهګان	کرنیز اجاره کار یا کارګر
Dev	دیو	دیو، یو مافوق الطبیعه خیالي موجود، د ځایونو په نومونو کي راغلی لکه : دیو کلا، دیو حصار
Diwal	دیوال	دیوال، دیوار
Dongaz	دونګز	په تورکمني کي د سمندرګي یا جهیل په معنی
Dost	دوست	ملګری، دوست
Duzd	دزد	غل، دزدان، غلـهٔ، چشمـهٔ دزدان، د غلو د اوبو چینه، راهٔ دزدان : د غلو لاره د سخت سړک په معنی چي له عادي لارې دباندې وتلي وي.
Duz	دز	مالګه
EL	ایل	دا وییکی یا لغت تورکي منشاء لري چي د ستر یا لوی په معنی دی ایلای (وګورئ بای) یو مهم سری، د پسونو د ستري رمي څښتن؛ ایلبند ستره غرنی لړی یا د اوبو بند، ویل سوي چي د هلمند د سیند اصلي نوم رود ایلبند دی چي د ستري غرنی لړی یا د اوبو د ستر بند په معنی کارول سوی دی
Farash	فرش	پلنول، هموارول، سنګِ فرش، تخته سنګه
Farsakh	فرسخ	پارَسنګ، د واټن ټاکلو لپاره یوه اندازه چي له ۱/۴ ۳ تر ۴ مایلو پورې توپیر مومي، خو تل په ثابت ډول ۱۲۰۰۰ ګامه یا قدمه منل سوی دی؛ فرسخ ګرګ له ۷ تر ۱۰ مایلو واټن ته وایي همدا شان ۱۸۰۰۰ فیټو ته هم وایي
Fasl	فصل	درمند
Gah	ګاه/ ګا	ځای، قدم ګاه، پل ځای، شکارګاه : ښکار ځای
Gallah	ګله	رمه، شمیر او هم د جنس لپاره کارول کیږي
Gandum	ګندم	غنم
Gao	ګاو	غواء، پوستِ ګاو، د غوا یا غوایي پوستکی؛ څو ځایه دا نوم د سیمي لپاره راغلی دی او ویل سوي چي دا ځای د غوایي په پوستکي اندازه سوی دی، د ځمکي یوه ټوټه
Gao or Gai	ګاو، ګای	غوایی، سخوندر
Gardan, Gardana	ګردن، ګردنه	ټیټه غاړه یا آسانه کوتل چي په غونډیو کي ټیټ ځایونه وي او یا له خط الرأسه تیریدل
Garem – sel	ګرمسیل	ټیټه سیمه، توده سیمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

Gawaz	گوز	د اکسوس لويه غرڅه
Gaz	گز	يو يارډ يا يو گام (ډير توپير کوي)
Gaz	گز	د شين غزي ونه
Ghami or Ghani Pago	غمي يا غني پگو «پاو گاو»	(په سيستان کې قلبي ته "پا گاو" وايي دلته ليکوال پگو ليکلې چې تيروتنه ده. – ژ) د نارينه وو يوې کوچنۍ ډلې ته ويل کيږي چې د بزگرۍ د کارگرانو په توگه په کښت و کار کې بوخت کيږي. دا له تحويل پاگاو څخه توپير لري وگورئ خش
Ghar	غار	سوړه، سورى، سمڅه، په هزاره جاتو کې خلک ئې د څارويو يا ژويو د پټيدو ځاى ته وايي؛ غرنۍ لړۍ
Gilim	گليم	ټبر، گليم، د عوامو په ژبه گيلم، کوچنۍ غالۍ
Gosfand	گوسفند	پسـهٔ؛ راهٔ گوسفند، د پسـهٔ د تگ لاره، اکثراً ښـهٔ په نښه سوي سړک ته ويل کيږي خو کله چې راهٔ گوسفند وويل سي نو غير عملي لارې ته ويل کيږي
Gowd	گود	ټيټوالى، تنزل، گودال، فرورفتگي
Gunbaz or gunbad	گنبذ، گنبد	گنبدئ لرونکي ودانۍ، قبر يا زيارت
Gurg	گرگ	ليوهٔ؛ گرگ فرسخ : اوږد واټن
Guzar	گذر	د تيريدلو ځاى، گودر، جاله؛ عمدتاً د توركانو له پلوه کارول کيږي چې د سيند د غاړو هغو ځايونو ته ويل کيږي چې څاروي د اوبو څښلو لپاره کوزيدلاى سي؛ د اوبولو ځاى
Ghruna	غرونه	غرونه، غرنۍ لړۍ
Hadira	هديره	هـډ ايره – گورستان- قبرستان
Haizum	هيزم	سون توکي
Haizum	حاکم	د ولايت والي يا ولسوال
Hakim	حکيم	ډاکټر
Hami	حمي	هنجانه
Hamsaya	همسايه	گاونډى؛ مشترى
Hamun	هامون	په تحت اللفظي معنى سمندرگى؛ د اوبو ډيره لويه اندازه چې يو چيرې راټوله سي په ځانگړې توگه د سيستانو په جهيلونو کې
Hamwar	هموار	هوار، نرم، هموار
Haram -sarai	حرم سراى	وگورئ سراى
Hashar	هشار	د کارگران يوه ډله چې نهر کيندي
Hauz	حوض	د اوبو د زيرمه کولو لپاره مصنوعي زيرمتون، کيداى سي يو سرخلاصى ډنډ هم اوسي او يا له ښتو جوړ مخزن وي
Hinduwana	هندوانه- تربوز	هندوانه
Hing	هنگ	هنجانه
Hisar	حصار	کلا، : ديو حصار د ديو کلا
Hotpur or Utpur	هاتپر، اوتپر	برج
Ikhrajat	اخراجات	د ځمکو ماليه
Ikhtiar	اختيار	اختيار د هزاره گانو او چهار ايماق قومونو په منځ کې يو لقب دى؛ اختيار په عام ډول د کلي ملک يا مشر وي، کل اختيار ئې لا لوړ لقب وي، او صاحب اختيار لا نور لوړ لقب وي ښايي يو مهم مشر وي
Ilbai or Ilbegi	ايل باى، ايل بيگي	وگورئ : ايل
ilband	ايل بند ، ايل باى	وگورئ : ايل
Ilkhani	ايلخاني	د درناوي لقب؛ د قوم مشر
Ishan	ايشان	د تورکمنو يا وزبيکو په منځ کې سيد
Iskich	ايسکيچ	يو کوچنى پلنيدونکى بوټى دى چې هزاره جاتو، د تاينمي په سيمې او نورو ځايونو کې په عام ډول ډير شين کيږي؛ دا بوټى يو ضعيف سون توکى دى خو ويل سوي چې له ريښتې ئې ښه رسۍ جوړيږي
Ispust	ايسپوست	ښورکى، رشقه
Istikbal	استقبال	که يو خوړ يا دروند ميلمه راځي نو يوه ډله ئې مخې ته د ښـهٔ راغلاست لپاره وليږل کيږي، د درناوي محافظتي گارد
Izbashi	ايزباشي	د هزاره گانو په منځ کې يو لقب دى
Jageer	جاگير	(په ځمکوال يا فئوال سيستم کې) هغه د ارث وړ ځمکه چې ارباب ئې د خدمت په بدل کې بزگر ته ورکوي، د تقاعدي حقوق
Jala	جاله	جاله

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

Jam	جام	جام، پياله
Jangal	جنگل	ځنگل
Jao	جو	وربشې
Jar	جر	تنگه دره؛ کوچنی تگاب؛ په تورکستان کې کم عمقه تشه؛ سیند
Jarib	جريب	د ځمکې د اندازې د ټاکلو مقياس (داسې شی نـهٔ دی چې د هند په شان د ځمکې اندازه پرې وټاکل سي.)
Jawal	جوال	جوال
Jazira	جزيره	ټاپو
Jehil	جهيل	جهيل
Jowar or Jowari	جوار يا جواري	جوار
Juft	جفت	جوړه (د غوايانو) يعنی د قلبې غوايان وگورئ : قلبه
Jui	جوی	ويالـهٔ
Julga, Jilga	جلگه	وټ، تنگه ناوه، منځغری، د دوه وو غرونو په منځ کې (د ژباړونکي يادونه : دلته ليکوال تيروتنه کړې ده : جلگه : له وښو او چمن ډکه ځمکه، هواره او پراخه شنه ځمکه، مېرهٔ په معنی گانو ده)
Kalbal or Kabul	کاه بل، کابل	د پسونو رمه؟!
Kadam	قد	گام؛ قدم گاه – پـَل نښه، پل ځای
Kadim	قديم	لرغونی
Kadkhuda	کدخدا	ملک، مشر
Kafila	قافله	د باروړونکو څارويو يو کتار چې د سوداگرو مالونه يا بارونه، د بارونوکتار
Kagh	کاغ	وگورئ : کاک
Kah	کاه	واښـهٔ، وچ واښـهٔ؛ کاه سفيد : بهوسه : سپين واښـهٔ يا بوسه
Kaiak	قايق	ماڼو
Kafir	کافر	کافر: کاپر : هغه ځايونه چې د کافر کلا په نوم يادېږي له شماره وتلي دي؛ لږ تر لږه د هيواد د ۵۰ په سلو ورانو ويجاړو او کنډوالو نومونه د کافر کلا په نوم يادېږي
Kak	کاک	سر خلاصی د اوبو زيرمتون؛ څو ځايه چې نومونه ئې خاک لري بايد په حقيقت کې همدا خاک وي
Kal	کل	تنگه دره يا منځ تشی ځای
Kala	کلا	کلا، قلعه
Kalacha	قلعه چه : قلعچه	کوچنۍ کلا
Kalama	قلمه : کلمه	دروی؛ د دروي قلم: قلم نيي
Kalan	کلان	لوی، ستر
Kalama	قلمه	دروَی، نی، د دروي قلم، د نيی قلم
kaldar	کلدار، کلاه دار	کله دار؛ له «کله» يعنی ککرې يا خولۍ يا سر څخه راغلی دی – هندي پيسې ددې لپاره ئـې کلدار يا کله دار يادوي چې پر مخ ئـې ککره چاپ سوې ده
Kalgir or Kalgirkhar	کالگير يا کالگيرخر	دا يوه کليوالي اصطلاح ده چې د کلي ځمکه د کلی ملک يا بزگرانو ته ورکول کيږي او اجازه لري چې د ځان لپاره ئـې وکري.
Kaljao	کلجو	يو نری پوستی، بيکاره ډول د وربشو دی چې د هزاره جاتو په لوړو برخو کې شين کيږي. د قاعدې له مخې څاروي يو څه وخت ته اړتيا لري چې ورسره روږدي سي او په لومړي ځل ئـې ځای پر ځای نـهٔ خوري
Kam (kaum)	قام، قوم	قوم
Kam	کم	لږ
Kamar	کمر	گړنگ، کمرِ کلاغ : د کارغي گړنگ
Kaman	کمن	ليندۍ، کوږيدل، کږيدل، کړی، کمنِ بهشت : د جنت ليندی؛ د ځای نوم
Kandai, kandaw	کندآو	کوتل
Karez	کاريز	کاريز: تر ځمکې لاندې د اوبو کانال
Karkana	کرکانه، کرکنه	په تورکستان کې د ټيټ بوټي لپاره چې سون توکی دی کارول کيږي نورو ځايونو کې " ايسکيچ" يادېږي
Karwan	کاروان	کاروان يا قافله : همدا شان د کاروان لپاره د دمې نيولو ځای؛ کاروان سرای،
Kaus	کوز	قوس، ليندۍ
Kavir	کوير	باتلاق، پلنډۍ
Keshtgar	کشتگر	کروندگر

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

Khaima or Khima	خيمه	کيږدۍ
Khak	خاک	خاوري يا ايري؛ هر ډول د رس خاوره، همدا شان وګورئ : کاک
Khakistar	خاکستر	ايري؛ هډ ايره، هديره، قبرستان
Khakma	خاکمه	د اوبن له وړيو جوړي جامي
Kham	خام	اوم، خام همدا شان " په جنس کي " هم معنی ورکوي
Kham or kaj	خم ، کج	کوږ، د سيند د کږيدلو يا سيند ته د کښته کيدلو ځای ته هم وايي
Khan	خان	د درناوي لقب، په هرات کي سيمه ييز حاکمان د هماغه ځای د خان په نامـهٔ ياديږي، خان خيل په قوم کي د قوم د مشر کورنی
Khana	خانه	ځای؛ رود خانه : سيند؛ سرخانه : د کور پر سر يا د کورنۍ پر سر ماليه؛ سياه خانه : توره کيږدۍ؛ همدا شان هغه څوک چي په دغو تورو کيږديو کي ژوند هم کوي هغوی ته سياه خانه ويل کيږي؛ سفيد خانه : کله نا کله د هغو کسانو لپاره کارول کيږي چي په کورونو کي ژوند کوي
Khandak	خندق	ډبرين بند؛ خندق
Khar	خار	اغزی؛ خار اشتر : اوبن – اغزی؟
Khar	خر	خر؛ خرګور : ګوره خر، وحشي خر
Kharabeh	خرابه	کنډواله
Kharaj or kharach	خراج	باج، د باج اخيستلو دروازه
Kharwar	خروار	په تحت اللفظي معنی د خرهٔ بار ته وايي، چي ۱۰ مونده په هرات کي او ۱۶ مونده په افغان تورکستان کي کيږي
Kharbuza	خربوزه	خټکی
Khargah or khirgah	خرگاه	دا هماغه له وړيو جوړه کيږدۍ چي اکثريت مسافر ئـي د «کيبتيکه» په نامـهٔ يادوي. په تورکي کي : " اوونـي" ده
Kharif	خريف	هغه کښت چي په مني کي پخيږي او يا رسيږي
Khasadar	خاصه دار	د مليشه ځواک پلي سرتيری؛ د سيمي پوليس؛ قومي مليشيا
Khawal	خوال	طبيعي سمڅه يا سوری
Khima or khiama	خيمه	کيږدۍ
Khinjak	خنجک	د پستي ونه؛ عادي ونه
khishti	خشتي	له خښتو جوړ، خشت پخته : پخه خښته
Khum or kum	خم	ددښتي شګلنه خاوره
khuni	خوني	د ويني يا قتل مرتکب؛ همدا شان وژونکی او خطرناکه سړی؛ برفِ خوني : ډيره شديده او وژونکي واوره
khush	خوش	خوښ
khushk	خشک	وچ
Khwaja	خواجه	د روحاني اعقاب يا نسل حتمي نه ده چي سيدان دي وي
khwar	خوړ	خوړ
Kila	کِله	د قلبي مترادف
Kiri	کيري	ټيټ غر
Kirta	کِرته	دا يو ډول واښـهٔ دي چي د اس د خوراک لپاره مناسب دي
Kishlaq	قشلاق	دائـمی کلی يا استوګنځای؛ د ايلاق برعکس چي د دوبي لپاره دی قشلاق د ژمي د تيرولو ځای دی
Kishti	کشتي	بيړۍ
Kizil	قزل	سور
Koh or Kuh	کوه	غر؛ کوهستان : غرنۍ سيمه
Kohna	کهنه	زوړ
kol	قول	دره، پراخه ټيټه ځمکه يا دره
Kotal	کوتل	کوتل
kowl	کول	جهيل
Kran	قِران	غيران
Kro	کرو	يو کڅ يا يو يا دوه مايله
Kruman	کرومن	د سنګ من نيمايي
kucha	کوچه	لفظاً د کوڅي په معنی ده خو د تنګي دري يا منځغري لپاره هم کارول کيږي
Kulach	قلاچ	فتوم : ۶ فيته
Kulba or Zauj	قلبه يا زوج	د قلبي ځمکه؛ په دي معنی چي هغومره ځمکه چي يوه جوړه غوايان ئـي په يوهٔ کال کي قلبه کولای سي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

kum	خم، کم	وگورئ : خم
kund	کند	ورخ
Kundal	کندل	یو ډول واښـهٔ دي، د آس خوراک
kurghan	کرغان	کلا
kurk	کرک	د برَک عالي ترینه بڼه یا نرمي جامي چي د پسـهٔ تر وړیو لاندي له نریو سپنسیو جوړي سوي وي
kush	کوش	جوړه
Kush (kushta)	کش، کشته	قتلځای
Kushk	کوشک	لوړ سوی، د ځای نوم
Kupruk	کپروک	پُل، په ترکمني تورکي کي کوپرو یا کوکرو
Lab	لب	څنډه، ژئ؛ لبِ آب : د سیند څنډه یا ژئ
Lag-lag	لک لک	ډینګ، لګ لګ
Lak	لاک	دا لغت په بلوڅستان کي د " کوتل" لپاره کارول کیږي
Lalmi	للمي	للمه، هغه کرهڼه چي د ویالو په اوبو نـهٔ خړوبیږي
Lang	لنګ	ګودر یا د تیریدلو ځای
Langar	لنګر	د ایثار او فداکارئ ځای، د قرباني ځای
Langar	لنګر	د یوهٔ پاګاو یا د یوې قلبي ځمکي هغه سیمه چي په یوې ورځ کي قلبه سي
Lar	لار	کوتل
Li or Lik	لی یا لیق، لک	د ځای د نامـهٔ لپاره وروستاړی دی لکه خراسان لی : د خراسان خلک؛ پسته لیق هغه لاره یا د ځمکي توټه چي د پستي ونې په کي پریمانه دي
Lig- lig	لیګ	تراټ، لکه د آس په تراټ تلل
Lut	لوت	بې اوبو ځای یا سیمه، ډبرینه دښته، یا هغه دښته چي اوبـهٔ ونـهٔ لري
Ma'dan	معدن	کان
Maidan	میدان	هواره ځمکه؛ میدانِ اسپ د واټن د ټاکلو یو مبهم واحد د مایل د ربعي یا نیمایي مایل په اندازې
Mal, Maldar	مال، مالدار	څاروي، مالدار : د څارویو څښتن
Malakh	ملخ	ملخ
Malik	ملک	د کلي ملک یا مشر یا (د پټهانانو په منځ کي) د یوې قومي ځانګي مشر
Malia or Maliyat	مالیه، مالیات	مالیات
Man	من	یو مونډ
Manda	مانده	ویالـهٔ، د اوبو بهیر
Mar	مار	مار، مارپیچ لار،
Mash and Mung	مش منګ	یو ډول پتي یا مې دي
Mashk	مشک	د پسـهٔ له پوستکي جوړ شی دی چي هوا په کي ډکیږي او کله چي له سینده پورې غاړه اوړي لکه د ماڼو په ډول ورڅخه کار اخیستل کیږي. ددغو ډول پوستکو یو شمیر څنګ پر څنګ اینبودل کیږي او جاله ورڅخه جوړوي او انسانان او څاروي په کي پورې غاړه تیر باسي
Mazar or Mizar	مزار	زیارت
Mehman	مهمان	میلمه، مهماندار : کوربه
Mehtar	مهتر	په هزاره ګانو کي یو لقب دی، د قوم مشر
Ming Bashi	مینګ باشي؛ منګ باشي	په تحت اللفظي معنی د زرو تنو مشر، په تورکمنانو کي د سیمه ییزو مالیاتو مشر
Mir	میر	مشر؛ میر د قومي څانګي د مشر یا د هغه له کورنی وي، د قوم یا ټبر "خان خیل"؛ میرآخور د آسونو روزونکی او یا د پالونکو مشر؛ میر آب باشي : د اوبو لګولو د ویش مسؤول، اکثراً مهم اورسمي سړی وي
Mirigan or Mirgan	میرګن	ښکاري، یو څوک چي له ځان سره وسله ګرځوي، هر پلې سړی چي له ځان سره وسله ولري
Mawajib	مواجب	په تحت اللفظي معنی د پیسو ورکړه یا پرداخت؛ د قومي مشر یا حاکم مستمري
